مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکتر رحمت ربی ځیرک یار ۲۰۱۸/۱۰/۱۲

# پلوراليزم + سيکولريزم = د اسلام پرمختيا
# د دستورالمديني په رڼا کې

درېمه برخه

## د سيکولريزم لومړی تعريف

انګريز جيکوب هوليؤک دغه لفظ په ۱۸۴۶زيېز کې «د نظر يو شکل» وګڼلو چې «يواځې په داسې پوښتنو راچاپيردی چې موضوع يې د دې ژوند په تجربه امتحان کېدلی شي.» دغه مفهوم په خپلواک - فکری راچاپيردی. هغه د يو اجتماعي اصلاحات غوښتونکي په څېر په دې عقيده هم وچې حکومت دې اوس(په دې دنيا کې)دريځ ونيسي. د نوموړي مفکر دغه ډول خاورينه (غېرديني) فلسفه په دې خاورينه نړۍ کې د بشر د اړتياو په پوره کولو راچاپېره وه، نه په بله(له مړينې وروسته) نړۍ کې. ولولئ

Jacob George Holyoake, Origin and Nature of Secularism. London: Watts & Co.,1896; Kathrine Ozment, Grace Without God: The Search for Meaning, Purpose, and Belonging in a Secular Age. Harper Wave: June 2016.

په امريکا کې د هارواردږ پوهنتون د عبادتځای مشر په خپل لاندې کتاب(«بې له خدايه ښه») کې د اُساما بن لادن اود امريکايي عيسوي مبلغ[ جيری ل.] فالوېل په مينځ کې خپلې څپلی شلولې دی. د مبلغ فالويل ځوی او ناستن د امريکې اوسنی ولسمشر دانلډ ترمپ په «جدي ډول» د انګلستان د پخواني صدراعظم وينسټن چرچل سره په تله (مقايسه) کړی دی! دليل يې داو چې چرچل په دوهمه نړيواله جګړه کې د جرمني د نازيانو په ضد کلک ولاړ و،او دانلډ ترمپ د ۲۰۱۶ په دسمبر کې د کليفورنيا ايالت په سن برنادينو سيمه کې د نړيوال جهادي ترور د خطر په وړاندې ولاړ و. ځوان مبلغ فالويل ويلي وو چې: که ډېر امريکايان ټوپک ولري، «موږ [امريکايان] به دغه مسلمانان ختم کړو.» هغه وروسته توضيح کړه چې مطلب يې وسله وال مسلمانان وو. ولولئ:

Daniel Marans, “Jerry Falwell Jr. Seriously Compared Trump to Winston Churchill”: (Huffington Post: August 8, 2016 ).

په سويس او فرانسه کې د اخوان المسلمين يوه وتلې څېره طارق رمضان وايي: «سيکولريزم همدا اوس يو دين دی چې د ټولونورو دينونو په ضد دی.» خو سيکولريزم نه دين دی اونه په غيردولتي/شخصي چاپيرېال کې د کوم دين په ضد دی. هغه مهم عناصر چې دين پرې ولاړ وي، په سيکولريزم کې نشته. دين لږترلږه په ۷ عناصرو ولاړ وي:(۱) عقيده په خدای، د محشر/قيامت ورځ، ملايک، سپېڅلي کتابونه(تورات،انجيل،قرآن، ګرند...). هندوان په څو خدايانو عقيده لري. (۲) ديني سازمانونه لري. (۳) ديني احساسات لري. (۴) تشريفات، شعاير، آداب او مراسم لري. (۵) سمبولونه لري(اذان، دُعا، عبادت). (۶) فرقې لري (سني، شيعه، حنفي، حمبلي، وهابي ...احمديه). (۷) سپېڅلي شيان لري: بيت الله، توره تيږه/حجر اسود، بوتان، جوماتونه، کليسا،...درمسال.
سيکولريزم د چا سره غليمي نلري. يواځې دومره غواړي چې دين دې له دولت نه بهر په ټولنه کې بوخت وي، نه د دولت په جوړښت کې. داسې برېښي چې په امريکا کې د هارواردږ پوهنتون مولوي او ليکوال(ګريګ ايپشتاين) به په خپل کتاب کې (بې له خدايه ښه)،د امريکي د مشهور عيسوي مبلغ او د ديني «آزاد پوهنتون» د رئيس (جيري لمن فالويل)او د اُساما بن لادن د مفکورو په مينځ کې ګرځيدلی وي؟ خو د دوه (اسلامي او عيسوي) بنسټيانود دريځونو له امله به يې د ځان لپاره روغه ګڼلې وي چې«بې له خدايه ښه» دی:

Greg M. Epstein, Good Without God. Paperback, Reissue Edition: October 2010



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

## فـلسطينـيان ترورېسټـان وو او افـغـانان مجاهــدين؟!

د امــريکي ولسمشــر جورج و. بـوش(جنوري ۲۰۰۱ تر جنوري ۲۰۰۹) ويـلي وو چي د«ترهه ګرئ په ضد جګړه» روانه ده. د دغې «شريرې»جګړې په وړاندې بايد مقاومت وشي. خو بوش به دا هم ويل چي د ترهه ګرئ په ضد جګړه د اسلام په ضد نه ده. امريکا د اسلام په ضد جګړه نه کوي، ځکه چي اسلام هــم د دوه نورو توحــيدي دينونو(يهوديت او عيســويت)په شان بېلابېلې سياسي، مفکوروي،عقيدوي اومذهبي څانګې لري. سرې ويلی شي چي د ترهه ګرئ په ضد جګړه د عبادتي اسلام په ضد نه، بلکې دعسکري اسلام په ضد جګړه ده. عسکري اسلام چي د لويديز له خوا تنظيم شو، د پخواني کمونيستي شوروي اتحاد ککرئ يې وخوړه، او د امريکي خوله ورته ګوړې ګوړې شوه.
د لويديزې نړئ (په تېره د امريکي) مصرفګرايي(کنزوميريزم)،پانګوالي،او فـرديتـولي د اوروپـکو(افراطي) مسلمانانو نه خوښېـږي، خو ښايي د لويديزې نړئ ټکنالوجي (خاصتا وسلې او طبي وسايل) خوند ورکوي. اوروپکي مسلمانان په دې آند دي چي لويديز قدرتونه په نړئ کې د واحد اسلامي نظام د رامينځته کېدا په ضد دي. د ۱۷ پېړئ پورې عثماني امپراتورئ د يورپ په وړاندې ساه وېستلې شوه. خو سوکه سوکه د لوديز د ګړندي پرمختګ په وړاندې يې زمکـه له لاسه ورکړه، او د لومړئ نړئ والي جګړې په پای کې يې امپراتوري رانسکوره شوه (۱۹۱۹). اروپايي هېوادونو دخپلو ملي ګټو لپاره په افريقا او اسيا کې مستعمرې جوړې کړې او د هغوي ملي ګټو ته يې پاټک واچاوه. په ۱۸۷۹ کې انګريزانو په افغانستان د ګندمک توافقنامه تحميل کړه ،په ۱۸۹۳ کې يې پرې د ډيورند توافقنامه،او په دې ډول يې افغانستان کمزورئ کړ. په دې ډول اسلامي نړئ په پرله پسې ډول دغرب څـپېړې وخوړلې.
د اسلامي نړئ لپاره د لويـديز ډېره عذابونکې پرېکړه دا وه چي په ۱۹۴۸ کې يې د اسرائيلو دولت رامنځته کړ، او بل شرموونکى واقـيعيت دا و چي د عرب يوځ متحدې جبهې د نوي اسرائيلي هېواد د لښکر په مقابل کې ماتې وخوړله. د لويديز هر اړخيز ډيناميزم او د اسلامي نړئ دولتي-حکومتي رکود او پخواني خوبونه د يو بل سره اړخ نه لګوي. په غځه کچه دغه ډول ناکام حالت،ښايې مسلمانان دېته هڅولي وي چي د پخواني برم په چغــه خپل پخوانی شعــور ټکور کړي او په نړيـوال اسلامــستان پسي ملا وتړي.
په ۲۰۰۱زېيز کې به د ۹۱۱ بخولې(فاجعي) امريکې ته په «پېرلهاربر» باندې د دوهمې نړيوالې جګړې په مهال د جاپان حمله(۷ دسمبر ۱۹۴۱) ورپه زړه کړې وي. ولولئ

Janatan Schanzer, “At War with Whom?” (meforum.org”, [June 1, 2017].

د اسرائيلوپه ضد د فلسطينيانو «ترهه ګرئ» ډېر پرمختګ ونکړ، ځکه چي واشنګټن د فلسطينيانو په مقابل کې، د اسرائيلو کلک پلوي و. خو د پخواني شوروي اتحاد په ضد د افغانانو د جهاد په شدت کې پانګه وال لويديز(په تيره امريکي)غټ او منظم لاس لاره. افغانانو هم د اوړدې مودې کړېدلو فلسطينيانو په څېر خپلواکي غوښتله. خو فلسطينيانو د «تـروريسـتانو» ټاپه خوړلې وه او افغانان د عين لويديز له خوا«مجاهدين» ګڼل کېدل! ولسمشررانالډ ريګن(۲۰جنورئ ۱۹۸۱تر۲۰جنوري ۱۹۸۹) د افغان او عـرب مجاهـدينو رضاعي پلار و او د پاکستان استخباراتو ته يې د جهاد د پروژې اداره ورسپارلې وه. په ۱۹۹۰زېيز کې ځينو ګـوتي په شمار افغان مجاهدينو د صدام حسين په ضد د امريکي په جنګ کې برخه اخيستې وه چي سمبوليک ارزښت يې لاره. په امريکا او اروپا کې د روڼ آنتيا(تنوير) پېر، دېته لارهواره کړه چي ډېرعـيسويـان له خـپلوپخوانوديني ارزښتـونـو نه سيکـولـر (غيرديني/دنيوي) ارزښتونو ته کډوال شي. په تنوير دوره کې دين په يوه شخصي موضوع واوښت. بې له روڼ آندتيا سيکولرېزم ناشونی و!

## روڼ آنـدتيـا(تـنويـر) انســان د عقـل لارې ته سيخ کـړ

روڼ آندتيا په علم، فلسفه، ټولنه او سياست کې کوټلی بدلون راوست ، د نامعقوليت په تورتـم کې يې ډيوه ولګوله، اود خرافاتو، تعصب، او تبعيض برستن يې وسېځله. انګريز ساينټيسټ ايساک نيوټن(۱۶۴۳تر۱۷۰۷ز) په ۱۶۸۶ کې «د رياضياتـو اصول» راووېستـل. بل انګرېز جان لاک درې کالونه وروسته «د بشر د پوهېدا کتاب» راوېست. دغو دوه اثارو د روڼ آندتيا(تنوير دورې) د پرمختيا لپاره لارهواره کړه. نږدې سل کالونه وروسته په ۱۷۸۴ کې جرمن فيلسوف اِمانويل کانټ په خپله ليکنه (روڼ آندتيا څه ته وايي)کې د خپلې زماني چغه لوړه کړه: «د پوهي زړه ورتيا ولره. زړه ورتيا ولره چي خپل استدلال/عقل و کاروې! روڼ آندتيا له هغه نامڅکن نه راوتل دي چي انسان پکې ځان پخپله مقصر ګڼلی وی. عدم امکان/ناممکني هغه بې کفايتي ده چي بې د بل چا له لارښووني خپل عقل نشی کارولی....زړه ورتيا ولره چي خپل عقل وکاروی.»


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

“Aufklaerung ist der Ausgang des Menschen aus seiner selbst verschuldeten Unmoeglichkeit. Unmoeglichkeit ist das Unvermoegen sich seines Verstandes ohne Leitung eines anderen zu bedienen….Habe Mut dich deines eigenen Verstandes zu bedienen.” Emmanuel Kant(1724-1804).

د روڼ آندتیا دوهم پړاو(۱۷۷۶تر ۱۸۱۵ز) لومړی په ۱۷۷۶کې د امریکې او ورپسې په ۱۷۸۹کې د فرانسې انقلابونه رامینځته کړل. استدلال د روڼ آنـدتیا چورلیز(محور) جوړکړی و. د استدلال له لارې انسانان خپل چاپیـریال(کائنات) پېـژني، د خپل ژوند شرایط تحلیلوي او د ځان په ګټه یې استعمالولی شي. یانې په دغه موده کې په منطق ولاړ انسانیت رامینځته شو چې په پوهه، خپلواکۍ او خوښۍ راچاپېـر و. منطق، آزادي اوعلمي نظم(میتود) په دین(په ځانګړې ډول په کاتولیک کلیسا، سلطنتي او میراثي رژیمونو، او اشراف سالاریو) شکمن شوي وو. د دغې اکثریت-دښمنې ګړندۍ عملیې له ډکون نه لومړی د امریکې او ورپسې د فرانسې انقلابونه راولاړ شول.
د روڼ آنـدتیا وتلې څېـرې دا وې: فرانسوا ولتېـر(۱۶۹۴تر۱۷۷۸)، جان لاک (۱۶۳۲تر۱۷۰۴)، ټامس هابس (۱۵۸۸تر۱۶۷۹)،ډیوېډهـیوم(۱۷۱۱تر۱۷۷۶)، ټـامس جفرسن (۱۷۴۳تر ۱۸۲۶)، ژان ژاک روسو(۱۷۱۲تر۱۷۷۸)، ادم سمیت(۱۷۲۳تر۱۷۹۰)، ایمانوېل کانـټ(۱۷۲۴تر۱۸۰۴)، ګیورګ فریدریښ هـیګل(۱۸۲۰تر۱۸۹۴)، کارل مارکـس (۱۸۱۸تر۱۸۸۳)، ګُتفریـد ایفرایم لیسینګ (۱۷۲۹تر۱۸۸۱)، او موزیس مېندلزون(۱۷۲۹تر۱۸۸۶) چې په جرمني کې په «یهودي سوقرات» مشهور و.
جرمن مولوي یوهان فریدریښ څولنر خپل هېـوادوال فیلسوف ایمانوېـل کنټ پوښتلی و چې روڼ آنـدتیـا(تنویر) څه ته وایي؟ کنـټ داسې ورغبرګه کړه: «روڼ آنـدتیا په ځان د تحمیل شوي عدم بلـوغ څخه د بشر د نوعې آزادي ده.»
په تنویر پېـر کې دین یوه شخصي موضوع ګڼل شوې وه، نه د عامه ژوند برخه. په لویدیزه نړۍ کې د تنویر دورې دېته لار هواره کړه چې ډېر عیسویان له خپلو دیني ارزښتونو نه سیکولر(غیردیني) اررزښتونو ته کډوال شي

George Friedman, “Europe, Islam and Radical Secularization,” Geopolitical Futures. ( 14 April 2016). Barbara Stollberg-Rilinger, Die Aufklaerung: Europa im 18. Jahrhundert. Reclams Universal-Bibliothek (August 2011).

انګریزمفکر جان لاک(۱۶۳۲تر۱۷۰۴) په خپل دوهم کتاب کې د مجاز(قانوني،مشروع) حکومت اساساتو ته ګوته ونیوله: یو واکمن خپل مشروعیت د خپلو هېوادوالانو(اتـباعو) لــه موافقې نه لاسته راوړي،او د حکومت وظیفه داده چې د خپل ولس طبیعي حقوق (ژوند، آزادي او ملکیت) وساتي. جان لاک د انسان اودولت اړیکو ته پاملرنه کړې ده، او انسان یې له طبیعي حالت نه مسول حالت ته(د دولت سازۍ) حالت ته جګ کړی دی.

Silvia Haehnel, Das Zeitalter der Aufklaerung: Glaube an die Vernunft(Letzte Aktualisierung: 24-04-2017).

## انسانان ټـول بې له دینــه زېـږېـدلي دي

دین د عقایدو مجموعه ده چې د پخواني عـقیده وال له خوا نوي غیردیني انسان یا بل شان دیني انسان ته انتـقالېـږي او ماورای طبیعت ذات ته منسوبېـږي. په ګـڼ کـلتوریـزه نړۍ او ګڼ کلتوریزه واکمنۍ کې باید واکمنان او د واکمنۍ موسســې ځانونه له دې لرې وساتي چې د واکمنۍ نظام (دولت) د کوم ځانګړي دین، عقیدې، مفکورې په خدمت کې استعمال کړي. د کمال مطلوب حکومت کارمندان باید د عقیدو(دیني یا غیر دیني) په اړه ناپیـیلی وي.هندي-امریکایي مسلمان ډاکتر فرید ذکریا لیکي چې: «زه یو مسلمان یم. خو د [دانلد]ترمپ نظریې ما منزجروي ځکه چې زه یو امریکایي یم.»۔ واشنګټن پوست، ۱۰دسمبر۲۰۱۶
اوستین کلاین «دین د خلکو د افین په څېر» داسې توضیحوي: په ۱۹ پېـړۍ کې د دین په اړه د مارکس تحلیل او نیوکه د دینوالانو او بې دینوالانوله خوا ډېر اقتباس شوي دي. خو د ډېرو سر په دې نه دی خلاص شوی چې د مارکس نظر په کوم منظور راچاپېر و. علت یې دا دی چې لوستونکو د مارکس اقتصادي او ټولنیز تحلیل ته کره پام نه دی کړی. کله چې انسانان له سمـسمـکۍ ابتدایي ټولنې نه راووتل او کرهـڼه او شخصي ملکیت یې پیل کړل، ورو په ورو د کار وېـش او د طبقو بېـلوالی رامینځته شول. دا جوړښت چې په قـدرت او ثروت ولاړ و، ټولنیز ټکر ته یې لار پرانیستله. دغه نوي واقعیت په پانګوالۍ (کپیټلیزم)کې لا ډېـرزور ومیند او د شتمنې طبقې او بېوزلې( کارګر) طبقې تر مینځ توپیر څرګند او سوکه سوکه کوټلی شو. د کارګرانو له کار نه اضافي ارزښت* راووت چې مفاد یا ګټه ورته ویل کېـږي.

*) Mehrwert, Surplus


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ماشین یو جسمي موجود دی چې د کاررګرانو د کارپه قوه رامینځته شوی دی. د جرمن سیاسي مفکر او اقتصاد پوه کارل مارکس(۱۸۱۸تر۱۸۸۳ز) په آند، غوره (کمال مطلوب) اقتصادي نظام باید د مساوي ارزښت** په تبادل وچلېږي. خو کپیټلیزم په اضافي ارزښت(ګټه) خبټه اچوي. که څه هم د مارکس په مهال به کارګرانو هره ورځ ۱۲تر ۱۴

**) equal value

ګېنټي کار کاوه او ماشومانو به هم په کارخانو کې کار کاوه! هغه مهال درې ګینټې کار ښایی د کارګر د کورنۍ ورځنی خرڅ پوره کاوه؛ د کارګر پاتی ۹تر۱۱ ګېنټي کار د پانګه وال (کپیټلیسټ) برخه(اضافي اررزښت، ګټه) وه. دلته د مارکس سمسمکۍ ټولـنې(کمونیزم) دوه موخې لرلې: (۱) دغه تریخ واقعیت باید خلکو ته توضیح شي، او(۲) مظلومه (زیارکښه/کارګره) طبقه پاڅون ته وهڅوله شي. مارکس د جدي اقتصاد پوه اوفیلسوف په حیث په فلسفي شخوند نه واهه، بلکې د خپلې مفکورې د پلي کولو په لټه کې و. هغه ویلي وو چې:« فیلسوفانو نړۍ یواځې په بېلابېلو ډولونو توضیح کړې ده؛ خو مهمه دا ده چې بدله یې کړې.» مارکس د کار وېش او د طبقې وېش ته کلک پام کاوه، او موجود حالت(ستاتوسکو) یې نشو زغملی.
مارکس نه یواځې د اقتصاد او عدالت کوټلې کوپړۍ وه، بلکې د ټولنپوهنې(سوسیالوجي) یو مهم موسس شخصیت هم و. یو څوک چې ټپي شي یا کلک درد ولري، درد ارامو نکې مادې (اپین/تریاک) ته اړکېږي. کارل مارکس لیکي چې: «دین د مظلومو خلکو اسویلی دی، د بې رحمه نړۍ زړه دی، او د بې رحمه شرایطو روح. دا د خلکو اپین دی.»
۲۵ کلن کارل مارکس (۱۸۱۸تر ۱۸۸۳) د جورج و. هېګل(۱۷۷۰تر ۱۸۳۱م) په حقوقي فلسفه نیوکه کړې وه(ننتوځ ۱۸۴۳ ): «وروسته له دې چې د واقعیت هغه بله نړۍ ورکه شوې وي، دا هم د تاریخ وظیفه ده چې د دې نړۍ واقعیت تثبیت کړي.» «له یوې خوا دیني فلاکت د واقعي فلاکت اظهاردی او له بلې خوا د واقعي فلاکت په ضد اعتراض دی. دین د تنګ شوي کلتور اسوېلی دی، د بې رحمې نړۍ احساس دی لکه څنګه چې د بې روحه حالت روح دی. هغه [دین] د ولس اپین دی. د ولس د تخیلي بخت په ځبر د دین پای د هغه د رښتوني بخت غوښتنه ده. دا غوښتنه چې د خپل حالت تخیل پرېږدي،هغه غوښتنه ده چې یو داسې حالت پرېږدي چې تخیل ته اړتیا لري. دغه شان په دین نیوکه اصلا د زارۍ او ژړا نیوکه ده چې عظمت یې پخپله دین دی....دین یو تش/خیالي لمر دی چې په انسان تر هغه مهاله راتاوېږي چې هغه په خپله په ځان نه راتاوېږي.»
۲۵ کلن کارل مارکس په ۱۸۴۳م کې د هیګل په حقوقي فلسفه نیوکه کړې وه: «وروسته له دې چې د حقیقت هغه بله نړۍ ورکه شوې وي، دا هم د تاریخ وظیفه ده چې د دې نړۍ حقیقت خوندي کړي.» مارکس وایي چې: «له یوې خوا دیني فلاکت د واقعي فلاکت اظهار دی او له بلې خوا د واقعي فلاکت په ضد اعتراض دی. دین د تنګ شوي کلتور اسوېلی دی، د بې رحمه نړۍ احساس دی لکه څنګه چې د بې روحه حالت روح دی. هغه[دین] د ولس اَپین دی. د ولس د تخیلي بخت په ځبر د دین پای د هغه د واقعي بخت غوښتنه ده. دا غوښتنه چې د خپل حالت تخیل پرېږدي، هغه غوښتنه ده چې یو حالت پرېږدي کوم چې تخیل ته اړتیا لري. دغه شان په دین نیوکه اصلا د زارۍ او ژړا نیوکه ده چې عظمت یې پخپله دین دی.... دین یو خیالي لمر دی چې په انسان تر هغه وخته راچاپېر وي چې هغه [انسان] پخپله په ځان نه راتاوېږي.»

Karl Marx, Zur Kritik der Hegelschen Rechtsphilosophie. Eileitung,1843
“Es ist also the Aufgabe der Geschichte, nachdem das Jenseits der Wahrheit verschwunden ist, die Wahrheit des Diesseits zu etablieren.” “Das religioese Elelnd ist in einem der Ausdrueck des wirklichen Elendes und in eimen die Protestation gegen das wirkliche Elend. Die Religion ist der Seufzer der bedraengten Kultur, das Gemuet einer herzlosen Welt, wie sie der Geist geistloser Zutstaende ist. Sie ist das Opium des Volkes. Die Aufhebung der Religion als des illusorischen Gluecks des Vokes ist die Forderung seines wirklichen Gluecks. Die Forderung, die Illusion ueber seinen Zustand aufzugeben , ist die Forderung, einen Zustand aufzugeben, der der Illusion bedarf. Die Kritik der Religion ist also im Keim die Kritik des Jammertales, dessen Heiligenschein die Religion ist….Die Religion ist nur die illusorische Sonne, die sich um den Menschen bewegt, solange er sich nicht um sich selbst bewegt.

داسې برېښي چې کارل مارکس د دین غلیم(دښمن) نه و. که دین مارکس ته کلک غلیم وای، نو هغه به ډېروخت د دین په ضد مبارزه کړې وای! خو لکه چې وینو، مارکس کلک پام اقتصادي، ټولنیزاوسیاسي جوړښت ته کړی و،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ځکه چې د هغه په آند يې خلک د ظلم لاندې نـيولي وو! ولولئ: اوستين کلاين، دين د خلکو د اپيـن په څـېـر(۲۰جون ۲۰۱۷).
هرڅومره چې انسان د بالغ او روڼ-فکره بشريت پړاو ته جګېږي، امکان لري چې د دين مقام نوکې ټکنی شي؟ خو دا چې ديـن د مظلومو او بې وزلـو انسانانو په ملاتړکې ودرېږي . په برتانوي هيند کې ديوبنـد مدرسه د سپاهيانو له پاڅون(۱۸۵۷تر۱۸۵۸) نه تقريبا لس کالونه وروسته په ۱۸۶۷ز کې جوړه شوې وه. عبدالرحيم پوپلزی(درانی پښتون ۱۸۹۰تر۱۹۴۴) چې له ديوبنـد نه فارغ شوی و، او بری ليک يې د شيخ الـهيند نه په حـديثو کې لاسته راوړې و، پېښور ته په ۱۹۱۲ز کې راستون شو. پـوپـلـزی د مارکسيـزم د مفکورې د اغيز لاندې راغلی و او په خپل ټول ژوند کې د «مارکسيـسـت مولانا» په نوم يادېـده. عـبدالـرحيم پـوپـلزي خپله امـپرياليستي-ضـد مفکوره له مولانا عبدالله سيندي(۱۸۷۲تر ۱۹۴۴ز) او مولانا حسين احمد مـداني (۱۸۷۹تر۱۹۵۷) نه زده کړې وه.

Celebrities of NWFP Peshawar: Pakistan Study Centre. University of Peshawar. 2005

د ديـوبـنـد د مشـهـورې ديـنـي مـدرسې نــامتـومسلمان فارغانو د مارکسيزم/کمونيزم سره جوړجاړی لاره، ځکه چې دغه مفکوره د استعمار او استـثمار سره په ټکر کې وه او د خپلواکې سـمسمکۍ (مساوات طلبې) ټولنې په رامـينځته کولو راچاپېـره وه. مارکسيـست مولانا عـبدالـرحيم پوپلزی په ۱۹۳۰ز کې ، په پـښـورکې د قصه خوانـې بازار په پاڅون کې ونيول شو او د انګرېـزانو له خوا ټول ټال نږدې نـهـه کالونه زنداني شوی و.
لکـه په لـر افغانستان کې چې د بـاچاخان فخرافغان بې تاوه پاڅون (دعدم تشدد مبارزه) راووتله، په لاتين امريکا کې «آزادوونکي الهيات»(ليبريشن تيالوجي)د کاتوليک عيسويانو له خوا راووتل او د امريکې په کاتوليکانويې هم اغيزوکړ. د پـيرو رومن کاتوليک مولوي ګوستافو ګوتـيـرېـز د(آزادوونکوالهياتو) مخکښ شو. هغه په دې پسې ملا وتړله چې په نړۍ کې ولسونه له بېوسۍ او ظلم نه راوباسي. باچاخان فخرافغان هم د «خـدايي خـدمتګار» خوځښت راووېست چې په بې تاوه پاڅون (عدم تشدد) چلېـده او ناپوهۍ ته يې د پوهې مورچل نيـولی و. لاندې به دواړه عدالت او مساوات غوښتونکي خوځښتونه وڅېړم

نور بيـا

ډاکټر رحمت ربی ځيرک يـار
Dr. rer. pol. Rahmat Rabi Zirakyar, Califorina, USA
zirakyar1234@yahoo.com

**نېټه: ۱۶ سيتمبر ۲۰۱۸/ ۲۵ وږی ۱۳۹۷/۵محرم ۱۴۴۰**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ